مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ٢٠٢۴/٠١/١٩

# ناصر کاظمي د عشق پیروی

ناصر کاظمي (١٩٢٥ـ١٩٧٢) د اردو ژبې تکړه او ملنګ شاعر و. طبعیت یې ډیر ساده او مینه ناک و. د شاعرۍ له پیله یې داسې ښکارېده چې د عشق پیروی دی. خپله یو ځای لیکي: "مینه، شاعري او هنر له ماشومتوبه زما په وینه کې و؛ خو د همدې ذوقونو په پالنه کې د یو دوو معشوقو هم لوی لاس دی"

کاظمي لومړۍ مینه یوازې په ١٣ کلنۍ کې د حمیره په نوم نجلۍ سره وکړه او دوهمه مینه یې د سلمی په نوم له یو فرضي نوم سره وکړه!

یوازې کاظمي نه و چې په خیالي معشوقې مئین شو، بل ستر اردو ژبی شاعر (جون الیا) هم د فارهه په نوم یوې خیالي نجلۍ باندې چې ده خپل ذهن او شاعرۍ کې رامنځته کړه؛ مئین شو.

اوس سوال دا پیدا کیږي، چې دا کومه ناروغي ده او که نه د هر شاعر لپاره د یوې معشوقې درلودل لازمي دي؛ څکه یو ځای مې په کوم کالم کې لوستي و، چې: بې معشوقې شاعر بې ونې غر دی! تاسې څه وایئ؟! د خیالي مینې کومه تجربه لرئ؟

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ